د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

سپین غردلوړوزده کړو مؤسسه ( ننگرهار )

محصلانو چارو معاونیت

محصلانو چارو آمریت

ستاژرانو مدیریت

# د نهایي روغتوني ستاژ لارښود (رهنمود)

دلو، ۱۴۰۲

تجدید شوې بنه: ۲۹/میزان/۱۴۰۳

## لیکلړ


د مهمو اصطلاحاتو تعریفونه ............................................................ 3

د لارښود اهداف ......................................................................... 3

د لارښود تطبیق ......................................................................... 3

د ستاژ دورې قانوني مبنی ............................................................... 4

د ستاژ دورې موده ....................................................................... 4

د نهایي ستاژ دورې د پیل شرایط ....................................................... 4

د نهایي ستاژ ترسراوي اثباتیه اسناد .................................................... 4

د نهایي ستاژ دورې مکتوب ترلاسه کولو پروسیجر ..................................... 4

د خارج مرز محصلینو ستاژ موافقه لیکونه ............................................. 5

نهایي ستاژ ته د معرفي کیدو مکتوبونو موده ........................................... 5

د رسمي موافقه لیک او مکتوب نه شتون ................................................ 5

د تېرو فارغو دورو پاتې محصلینو ستاژ ................................................. 5

قراردادي روغتونونه او وزارت ته د راپورونو استول .................................... 6

د معالجوي طب ډیپارټمنټ د ستاژ برخې ............................................... 6

د عابنونو طب پوهنځي ستوماتولوژي ډیپارټمنټ د ستاژ برخې ........................ 7

د طبي ټکنالوژي عمومي ډیپارټمنټ د ستاژ برخې ..................................... 7

د ستاژ دورې ازموینې او سایکل شیټ ................................................... 8

د نهایي ستاژ ازموینې ..................................................................... 8

شفاهي ستاژ ............................................................................... 8

د ستاژ دورې فیسونه ...................................................................... 8

په روغتون کې د نورو تحصیلي ادارو محصلینو ستاژ .................................... 9

د ستاژ دورې په فیس کې تخفیف ......................................................... 9

د رهنمود د انفاذ سوده .................................................................... 9

په گران هیواد افغانستان کې د دویمو شعبو په شمول جمله ۴۲ خصوصي او اته دولتي تحصیلي اداري طبي پوهنځي لري. له دې کبله چې په طبي پوهنځیو کې د لوړو زده کړو وزارت او نورو مرکزي ادارو لخوا په تحصیلي ادارو ډېر تأکید کیږي چې باید لوړ معیارونه رعایت او شفافیت ته پاملرنه وکړي، د یادو ادارو د غوښتنو ترڅنګ دا د تحصیلي ادارو ټولنیز ایماني او افغاني مسؤولیت دی چې په دې برخه کې د عدالت اصل په رعایت سره په بشپړ شفافیت او لوړو معیارونو ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کړي چې په هیواد کې د عامې روغتیا سکتور اړتیا پوره کړای شي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د خپل مسؤولیت او رسالت له مخې د درې ګونو پوهنځیو محصلینو عملي زده کړو لپاره مجهز معیاري تدریسي روغتون جوړ کړی دی چې د پنځلس کلن خدمت له کبله یې خدمات په ټولنه کې ځانګړی ځای لري. یاد تدریسي روغتون د با تجربه متخصصینو او معالج ډاکټرانو په شمول با تجربه اداري پرسونل او معیاري طبي وسائل لري.

د روغتون د ایجاد او ساتنې اساسي او لوی علت د محصلینو عملي زده کړې دي. له دې کبله چې د روغتون له شته ظرفیت څخه غوره ګټه پورته شي، ستاژر محصلین مکلف دي چې د درسي نصاب مطابق په کلنیکي ستاژ او نهایي ستاژ کې د روغتون له خدماتو څخه ګټه پورته کړي. همدا راز، د مؤسسې او روغتون رهبري او مسؤولین په دې مکلف دي چې د محصلینو عملي زده کړو او تدریس لپاره په روغتون کې ټول اړین امکانات او سهولتونه برابر کړي.

دا رهنمود (لارښود) د محصلینو د نهایي ستاژ (House Job) د اړوندو چارو ښه مدیریت په موخه ترتیب شوی دی. ټول هغه مسائل او موضوعات چې د محصلینو نهایي ستاژ پورې اړوند دي، د دې رهنمود مطابق به ترسره او اجراء کیږي. د نهایي ستاژ اړوندو اجرائیوي هغو ستونزو په هکله چې دې رهنمود کې نه دي ذکر شوي، د مؤسسې او روغتون رهبری غړو په مشوره به د نورو اړوندو تقنیني سندونو، طرزالعملونو او پالسیانو په رڼا کې ترسره کیږي.

### د مهمو اصطلاحاتو تعریفونه

**أ. تدریسي روغتون**

هغه صحي مرکز دی چې محصلینو ته متخصصو با تجربه کادرونو له لوري د تدریس او د هغوی د عملي زده کړو، ستاژرانو د ریسډنسي او په مختلفو برخو کې د کلینیکي څېړنو سربېره لاندې اساسي دندې ترسره کوي:

- د طبي علومو محصلینو د عملي زده کړو په موخه د تدریس زمینه برابرول
- د (ناروغ لومړی دی) شعار په پام کې نیولو سره عامو وګړو ته د صحي خدماتو وړاندې کول
- د کلینیکي څېړنو ترسره کول

**ب. تدریسي کلینک**

هغه صحي مرکز دی چې په عمومي توګه يې اړمنو خلکو ته د کلینیکي خدماتو عرضه کولو او لومړنیو کلینیکي مراقبتونو سربیره ستاژر محصلینو ته د عملي کلینیکي زده کړو او صحي کار کوونکو ته د علمي څېړنو زمینه برابره کړې وي.

**ت. ستاژ**

په طبي لوړو زده کړو کې ستاژ د تحصیل له هغه یو کلنې مودې څخه عبارت دی چې په تدریسي یا معیاري روغتون کې د ناروغانو د بستر تر څنګ د روغتیایي کتنو او مراقبتونو د فن زده کړه ده چې د درسي نصاب له مخې د لارښود یاټرینر استاد په مرسته د محصل لخوا ترسره کیږی.

**ث. سایکل شیټ یا د طبي ستاژ تصدیق**

د طبي ستاژ تصدیق یا (Cycle Sheet) په تدریسي یا معیاري روغتون کې د عملي کارونو د کرېډېټونو له هغه سند څخه عبارت دی چې پکې د ستاژ دورې په پای کې د ترسره شوي عملي کار کرېډېټ د ترلاسه شویو نمرو سره یو ځای ذکر کیږي او د ستاژ تکمیل وروسته د اړوند وارد مسؤول، روغتون او تحصیلي اداري تائید وروسته محصل ته ورکول کیږي.

**ج. د ستاژ موافقه لیک**

د ستاژ موافقه لیک له هغه کتبي سند څخه عبارت دی چې د هغې پر بنسټ د ستاژ مرحله پیل کیږي چې په اساس يې ستاژر محصل تدریسي یا معیاري روغتون ته د ستاژ لپاره معرفي کیږي.

### د لارښود اهداف

دا رهنمود (لارښود) د محصلینو، مؤسسې او سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون مسؤولینو لپاره د لاندې اهدافو لپاره ترتیب شوی دی:

1. د لوړو زده کړو وزارت د قانوني غوښتنو پوره کولو په موخه محصلینو ته د ستاژ زمینه برابرول
2. د ستاژ دورې اړوندې چارې د مشخص او تائید شوي سند له مخې داسې ترسره کول چې د کیفیت لوړاوي، عدالت تأمین او شفافیت ښکارندوی وي.

### د لارښود تطبیق

دا لارښود د ۱۴۰۲ لمریز کال پسرلني وروستي سمستر فارغانو په شمول د ټولو پوهنځیو نهایي ستاژ مرحلې په ټولو محصلینو د تطبیق وړ دی. د ستاژ دورې د فیسونو پرته چې د مالي چارو کمېټې پورې اړوند دي، د لارښود معلومات د مؤسسې علمي شورا له تائید پرته د تغیر او تجدید وړ نه دي.

**د ستاژ دورې قانوني مبنی**

په طبي علومو کې د محصیلینو نهایي ستاژ د دې لاربنود قانوني سرچینې او مبناء په لاندې ډول دي:

- ✓ د پوهنځیو تائید شوي تحصیلي نصابونه
- ✓ د لیسانس دورې د زده کړو مقررې دریېمه ماده
- ✓ د لیسانس دورې د زده کړو مقررې ۱۸مه ماده
- ✓ د تحصیلي بنسټونو د مصؤونو اسنادو د صدور لایحه
- ✓ د لوړو زده کړو وزارت خصوصي محصلانو چارو ریاست (۱۴۸۸) ګڼه (۱۴۰۳/۰۷/۲۸) نېټه مکتوب

**د ستاژ دورې موده**

په عمومي طب او غاښونو طب پوهنځیو کې د ستاژ دوره پوره یو کال (۱۲ میاشتې، ۴۸ اونۍ) ده او په طبي ټکنالوژۍ پوهنځي کې د ستاژ موده څلور میاشتې ( ۱۶ اونۍ) ده.

د درې ګونو پوهنځیو محصلین مکلف دي چې په سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون کې د ټولې ټاکل شوې مودې لپاره نهایي ستاژ ترسره شي.

**د نهایي ستاژ دورې د پیل شرایط**

هغه محصلین چې غواړي د نهایي ستاژ عملي زده کړې ترسره کړي، کولای شي چې د لاندې شرایطو له پوره کولو وروسته سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون ته د نهایي ستاژ لپاره رسما معرفي شي:

1. د نظري تحصیلي دورې بشپړ والی او په ټولو مضامینو کې بریالیتوب
2. د تېرو سمسترونو ټولو پاتې فیسونو تصفیه او نهایي ستاژ دورې فیس تادیه کول
3. د نظري زده کړو د تکمیل سند ترلاسه کول

**د نهایي ستاژ ترسراوي اثباتیه اسناد**

د نهایي ستاژ دورې د ترسراوي شواهد او اثباتیه اسناد په لاندې ډول دي:

1. په سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون کې د محصلینو د ستاژ دورې حاضري
2. په بل تدریسي یا معیاري روغتون کې د تکمیل شوي نهایي ستاژ د ازموینو تائید شوی جدول (Cycle Sheet)
3. هغه محصلین چې سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون ته له معرفي کیدو وروسته بل تدریسي یا معیاري روغتون ته ځي او د ستاژ په پای کې سایکل شیټ مؤسسې ته نشي سپارلی، د دوی د ازموینو او فیس په اړه به د ازموینو اصلي کمېټې او مالي چارو کمېټې د پرېکړو مطابق اجراءات ترسره کیږي.

**د نهایي ستاژ دورې مکتوب ترلاسه کولو پروسیجر**

د ستاژ دورې پیل شرایطو پوره کولو وروسته د ستاژ دورې رسمي پیل لپاره هر محصل مکلف دی چې لاندې مراحل طی کړي:

- د ستاژرانو مدیریت څخه د ستاژ د پیل یا عدم مسؤولیت فورم ترلاسه کول
- په عدم مسؤولیت فورم کې د اړوندو خواو مثبت نظر او تائیدي ترلاسه کول
- عمومي طب او غاښونو طب پوهنځیو محصلین باید مالي آمریت ته د ستاژ دورې فیس حد اکثر په څلورو قسطونو کې او طبي ټکنالوژۍ پوهنځي محصلین د ستاژ ټولې دورې فیس حد اکثر په دوه قسطونو کې تادیه کړي
- مالي چارو آمریت څخه د ستاژ د پیل فورم تائیدول

- د محصلانو چارو معاونيت څخه فورم تائيدول
- تکميل شوی فورم ستاژرانو مديريت ته سپارل او ستاژرانو مديريت څخه په سپين غر معالجوي او تدريسي روغتون د نهايي ستاژ مکتوب ترلاسه کول

هغه محصلين چې په بل تدريسي روغتون کې ستاژ ترسره کوي، دوی بايد مؤسسې ته د بل تدريسي يا معياري روغتون څخه د ستاژ د ټولې دورې تائيد شوی سايکل شيټ په رسمي مکتوبي ډول وسپاري.

**د خارج مرز محصلينو ستاژ موافقه ليکونه**

ټول داخلي او بهرني اتباع چې غواړي نهايي ستاژ ترسره کړي، دوی به سپين غر معالجوي او تدريسي روغتون ته رسما معرفي کيږي. له دې جملې که چېرې کوم داخلي يا بهرنی محصل غواړي له افغانستان څخه بهر د بل هيواد په تدريسي روغتون کې نهايي ستاژ ترسره کړي، دوی مکلف دي چې مؤسسې ته پنځوس سلنه فيس ورکړي او د نهايي ستاژ تائيد شوی سايکل شيټ محصلانو آمريت ته وسپاري.

هغه محصلين چې له هيواد څخه بهر د نورو تدريسي معياري روغتونونو څخه د نهايي ستاژ موافقې مؤسسې ته سپاري، په هغه صورت کې به پنځوس سلنه فيس تاديه کوي چې د اړوند تدريسي روغتون څخه يې د نهايي ستاژ سايکل شيټ د رسمي مکتوب په ملتيا مؤسسې ته سپارلی وي.

**نهايي ستاژ ته د معرفي کيدو مکتوبونو موده**

د معالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځيو د محصلينو نهايي ستاژ موده پوره يو کال (۱۲ مياشتې) ده. د طبي ټکنالوژي پوهنځي محصلينو د نهايي ستاژ دوره څلور مياشتې ده. معالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځي محصلين بايد مالي آمريت ته د ستاژ دورې فيس حد اکثر په څلورو قسطونو کې او طبي ټکنالوژي پوهنځي محصلين د ستاژ ټولې دورې فيس حد اکثر په دوه قسطونو کې تاديه کړي.

ټول داخلي او بهرني محصلين به سپين غر معالجوي او تدريسي روغتون ته چې د سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې خپل معياري مجهز روغتون دی د نهايي ستاژ لپاره معرفي کيږي. هيڅ داخلي او بهرني محصل څخه به د بل داخلي يا بهرني تدريسي/معياري روغتون موافقه ليک نه غوښتل کيږي. ياد محصلين که چېرې په خپل مسؤوليت بل روغتون ته د ستاژ لپاره تللي وي، د نهايي ستاژ په پای کې مؤسسې ته د معياري او تائيد شوي سايکل شيټ په سپارلو مکلف دي.

**د رسمي موافقه ليک او مکتوب نه شتون**

د درې گونو پوهنځيو هغه محصلينو چې د محصلانو چارو معاونيت ستاژرانو مديريت څخه يې د ستاژ د پيل رسمي مکتوب نه وي ترلاسه کړی، د ستاژ دوره يې نه محاسبه کيږي. که چېرې ځينې محصلين له دې کبله چې د تېرو سمسترونو فيسونه پرې پاتې وي او/يا د نهايي ستاژ پيل لپاره فيس ونه لري او له دې کبله سپين غر معالجوي او تدريسي روغتون ته رسما نه وي معرفي شوي، د دا ډول محصلينو په اړه به د مؤسسې رياست مقام د مالي چارو آمريت د معلوماتو پر بنسټ د محصلانو چارو معاونيت په مشوره د اثباتيه اسنادو د شتون او وړاندې کولو وروسته اجراءات کوي.

**د تېرو فارغو دورو پاتې محصلينو ستاژ**

د تيرو دورو چې نظري زده کړې يې تکميل شوې وي، هغه محصلين چې د سمستر پای وروسته تر يوې مياشتې پورې ستاژرانو مديريت ته د ستاژ مکتوب ترلاسه کولو لپاره مراجعه ونه کړي دا ډول محصلينو ته به د ستاژرانو مديريت او پوهنځيو تدريسي مديرانو لخوا خبر ورکول کيږي تر څو ستاژ دورې ته د معرفي کېدو رسمي مکتوب ترلاسه کړي. پر دې سربيره، د ستاژ دورې محصلينو سره به وخت په وخت د ستاژ اړوند خبرتياوې د ډيټابيس سستم (SMS Alert System) له لارې هم شريکيږي. د

ستاژ اړوندو اړیکو او خبرتیاو په اړه اجراءات د محصلانو چارو معاونیت مکلفیت دی. د هر سمستر په پیل کې به د موجوده او تېرو فارغو دورو نهایي ستاژر محصلینو لستونه د محصلانو چارو آمریت له لورې چمتو او د محصلانو معاونیت له تائیدۍ وروسته سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون ته استول کیږي. د پخوانیو فارغو دورو نهایي ستاژرانو سره به چې په بل معیاري یا تدریسي روغتون کې یې نهایي ستاژ ترسره کړی وي او سایکل شیټ یې د مؤسسې لخوا تائید شي، پنځوس سلنه فیس په ورکړې سره نور اجراءات ترسره کیږي. هغه محصلین چې سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون ته رسما معرفي شوي وي او په خپل مسؤولیت بل روغتون ته د ستاژ لپاره تللي وي، او غواړي چې د ستاژ ازموینې یې په سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون کې ترسره شي او سایکل شیټ ترلاسه کړي، د تېرو دورو دا ډول محصلینو څخه چې د دې لاربنود د تائید تر نېټې یې ستاژ پیل کړی دی لیکن بشپړ شوی نه دی، دوی څخه به پنځوس لنه فیس ترلاسه کیږي. د تېرو دورو هغه محصلین چې د دې لاربنود د تائیدۍ تر نېټې یې ستاژ رسما نه دی پیل کړی، که چېرې دوی له دې وروسته ستاژ ترسره کوي، دوی مکلف دي چې د دې رهنمود مطابق خپل ستاژ ترسره کړي او فیسونه تصفیه کړي.

**قراردادي روغتونونه او وزارت ته د راپورونو استول**

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلینو د صنفي او نهایي ستاژ لپاره د سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون په نوم مجهز او معیاري داسې روغتون ایجاد کړی دی چې پنځلس کلنه کاري سابقه لري. یاده مؤسسه د ستاژ اړوند زده کړو لپاره د دې لاربنود د تدوین تر مهاله بل روغتون سره د محصلینو د ستاژ په موخه قرارداد نه لري. له دې کبله، د مؤسسې ټول محصلین باید د مالي کمېټې د پرېکړې مطابق د معلوم فیس په ورکولو سره سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون کې ستاژ ترسره کړي، ازموینې ورکړي او سایکل شیټ ترلاسه کړي؛ یا که په بل روغتون کې ستاژ ترسره کوي باید د پنځوس سلنه فیس په ورکولو سره د بل معیاري/تدریسي روغتون سایکل شیټ مؤسسې ته وسپاري.

**د معالجوي طب ډیپارټمنټ د ستاژ برخې**

د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب دیپارتمنت محصلینو د نهایي ستاژ برخې او د تائید شوي تحصیلي نصاب مطابق د هرې برخې موده په لاندې ډول د تطبیق وړ ده. د نهایي ستاژ مرحلې ټول محصلین مکلف دي چې په تدریسي روغتون کې په هره برخه کې د ذکر شوې مودې لپاره عملي زده کړې ترسره کړي او د هرې برخې ازموینې لپاره تیاری ولري.

| گڼه | مضمون | د اونیو شمېر |
|---|---|---|
| 1 | عــمومي داخله | لــس اونی |
| 2 | عــمومي جراحي | اتــه اونی |
| 3 | د کوچنیانو داخله | شپږ اونی |
| 4 | نسایي ولادي | پنځه اونی |
| 5 | انـــــــتاني | دوه اونی |
| 6 | تـــوبـرکلوز | دوه اونی |
| 7 | فـــزيوتــراپي | دوه اونی |
| 8 | وقـــايـــوي طب | دوه اونی |
| 9 | عـــــدلـــي طـــب | دوه اونی |

| | | |
|---|---|---|
| 10 | ســــــــترگه | دوه اونی |
| 11 | غوږ، ستونی او پزه | دوه اونی |
| 12 | جلدي ( پوستکی ) | دوه اونی |
| 13 | عــقلي عــصبي | دوه اونی |
| 14 | نســـــخه لیکنه | یوه اونی |
| | **جمله اونی** | **48** |

**د غاښونو طب پوهنځي ستوماتولوژي ډيپارټمنټ د ستاژ برخې**

د غاښونو طب پوهنځي ستوماتولوژي ديپارتمنت محصلينو د نهايي ستاژ برخې او د هرې برخې موده د تائيد شوي تحصيلي نصاب مطابق په لاندې ډول د تطبيق وړ ده. د نهايي ستاژ مرحلې ټول محصلين مکلف دي چې په تدريسي روغتون کې په هره برخه کې د ذکر شوې مودې لپاره عملي زده کړې ترسره کړي او د هرې برخې ازموينې لپاره تيارى ولري.

| **گڼه** | **مضمون** | **د اونیو شمېر** |
|---|---|---|
| 1 | داخله ستوماتولوژي | اتــه اونی |
| 2 | د خولې او مخ جراحي | اتــه اونی |
| 3 | اطفال ستوماتولوژي | اتــه اونی |
| 4 | پروستودونتک | اتــه اونی |
| 5 | اورتودونسي | څلور اونی |
| 6 | پريودينتولوژي | درې اونی |
| 7 | غوږ ، ستونی او پزه | دوه اونی |
| 8 | عمومي داخله | دوه اونی |
| 9 | عمومي جراحي | دوه اونی |
| 10 | اطفال | دوه اونی |
| 11 | نسخه ليکنه | یوه اونی |
| | **جمله اونی** | **48** |

**د طبي ټکنالوژي عمومي ډيپارټمنټ د ستاژ برخې**

د طبي ټکنالوژي عمومي ديپارتمنت محصلينو د نهايي ستاژ برخې او د هرې برخې موده د تائيد شوي تحصيلي نصاب مطابق په لاندې ډول د تطبيق وړ ده. د نهايي ستاژ مرحلې ټول محصلين مکلف دي چې په تدريسي روغتون کې په هره برخه کې د ذکر شوې مودې لپاره عملي زده کړې ترسره کړي او د هرې برخې ازموينې لپاره تيارى ولري.

| **گڼه** | **مضمون** | **د اونیو شمېر** |
|---|---|---|
| 1 | بيوشيمي | څلور اونی |
| 2 | مايکالوژي او بکتريالوژي | درې اونی |
| 3 | هيماتولوژي | درې اونی |
| 4 | هستوپتالوژي | یوه اونی |

| | | |
|---|---|---|
| 5 | پرازیتولوژي | یوه اونی |
| 6 | ایمیونولوژي او سیرالوژي | یوه اونی |
| 7 | وایرولوژي | یوه اونی |
| 8 | وینې بانک | یوه اونی |
| 9 | ټوکسیکولوژي | یوه اونی |
| | **جمله اونۍ** | **16** |

**د ستاژ دورې ازموینې او سایکل شیټ**

د نهایي ستاژ ترسراوي له نظره محصلین په دوه ډوله دي، د هر نوعیت او حالت لرونکو محصلینو د نهایي ستاژ ازموینو او سایکل شیټ صدور په اړه به په لاندې توګه اجراءات ترسره کیږي:

لومړی: هغه محصلین چې په سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون کې حاضري ورکوي، زده کړې کوي او خپل ستاژ په همدې روغتون کې بشپړوي. دا ډول محصلینو څخه په سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون کې ازموینې اخیستل کیږي او د روغتون لخوا به یې سایکل شیټ صادریږي او رسما په مکتوبي ډول مؤسسې ته استول کیږي.

دویم: هغه محصلین چې سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون ته له معرفي کیدو وروسته نورو داخلي یا بهرنیو تدریسي یا معیاري روغتونونو ته ځي، دا ډول محصلین مکلف دي چې له یادو معیاري روغتونونو څخه سایکل شیټ ترلاسه کړي او مؤسسې ته یې د تائید په موخه وسپاري.

دریم: هغه محصلین چې سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون ته له معرفي کیدو وروسته بل داخلي یا بهرني معیاري روغتون ته د نهایي ستاژ لپاره ځي لیکن د ازموینو او سایکل شیټ لپاره سپین غر معالجوي او تدریسي روغتون ته مراجعه کوي. د دا ډول محصلینو په اړه به د ازموینو اصلي کمېټې او مالي چارو کمېټې د پرېکړو مطابق اجراءات ترسره کیږي.

**د نهایي ستاژ ازموینې**

د نهایي ستاژ مرحلې محصلینو ازموینې او ارزونې به د روغتون لخوا ترتیب شوي مهالویش له مخې په څو ورځو کې د جلا او ځانګړي طرزالعمل له مخې چې د مؤسسې علمي شورا کې تائید شوی وي، ترسره کیږي.

**شفاهي ستاژ**

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې د شفاهي ستاژ په نوم څه شتون نه لري. د نهایي ستاژ په برخه کې د مؤسسې اړوند اداري مسؤولین او محصلین مکلف دي چې د لوړو زده کړو وزارت اړوندو لوایحو، طرزالعملونو او مصوباتو مطابق د محصلینو د نهایي ستاژ چارې ترسره کړي. په کوچنیو غیر تدریسي او غیر معیاري روغتونونو کې نهایي ستاژ ترسره کول مجاز نه دي. که چېرې کوم محصل په خپل سر او مسؤولیت دا ډول روغتونونو کې ستاژ ترسره کړي، محصلانو آمریت مکلف دی چې د دوی لخوا وړاندې شوی سایکل شیټ رد کړي.

**د ستاژ دورې فیسونه**

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې درې ګونو پوهنځیو د نهایي ستاژ فیس به د مؤسسې مالي چارو کمېټې لخوا د مؤسسې معالجوي او تدریسي روغتون ظرفیت او حالت او همدا راز د محصلینو اقتصادي ستونزو ته په کتو د هر سمستر لپاره په جلا توګه ټاکل کیږي.

په بل دولتي یا خصوصي، دا خلي یا بهرني، معیاري یا تدریسي روغتون کې د نهایي ستاژ ترسره کولو او د ستاژ له تکمیل وروسته د ارزونې پایلې (سایکل شیټ) وړاندې کولو په صورت کې به محصلینو څخه پنځوس سلنه فیس ترلاسه کیږي.

**په روغتون کې د نورو تحصیلي ادارو محصلینو ستاژ**

سپین غر مومند معالجوي او تدریسي روغتون صلاحیت لري چې د خپل ظرفیت په پام کې نیولو سره د نورو تعلیمي تحصیلي نهادونو د ستاژ محصلینو د معیاري عملي زده کړو لپاره د روغتون د اړوند طرزالعمل/ پربکړو له مخې دوی ته د معلوم فیس په مقابل کې د نهایي ستاژ اجازه ورکړي او زمینه ورته برابره کړي. د دا ډول محصلینو د فیسونو، حاضریانو او ازموینو اړوندو چارو تنظیم او ترسراوی د روغتون مکلفیت دی.

**د ستاژ دورې په فیس کې تخفیف**

د نهایي ستاژ دورې فیس باید د سمسترواړو فیسونو په څېر د دې رهنمود/لارښود مطابق مالي چارو آمریت ته د ستاژ دورې پیل وړاندې تادیه شي.

که چېرې د لوړو زده کړو وزارت لوړ رتبه لومړۍ درجه مسؤولین یا نور دولتي چارواکي په انفرادي ډول د ستاژر محصلینو په فیس کې د تخفیف غوښتنه کوي، اړوند محصلین باید د یادو مسؤولینو کتبي غوښتنې له ځانه سره ولري او د تخفیف د اجراء لپاره یوه اونۍ انتظار وکړي تر څو د تخفیف په هکله اړین مراحل طی شي.

**د رهنمود د انفاذ موده**

په دې رهنمود کې ذکر شوي شرایط، معیارونه او غوښتنې به د ۱۴۰۳ لمریز کال خزاني وروستي سمستر محصلینو په شمول د ټولو راتلونکو سمسترونو لپاره د تطبیق او رعایت وړ وي. د تېرو دورو پاتې محصلینو په اړه د دې لارښود په (پنځمه او شپږمه) صفحو کې ذکر شوي شرایط د تطبیق وړ دي.

پورتنی د نهایي ستاژ لارښود د مؤسسې په (۱۴۰۲/۱۱/۱۰) نېټه علمي شورا کې د رایو په اکثریت سره تائید او د یادې شورا په (۱۴) ګڼه پروتوکول کې ثبت دی.

د شورا د مشر لاسلیک

د شورا د منشي لاسلیک

پورتنی د نهایي ستاژ تجدید شوی لارښود د مؤسسې په (۱۴۰۳/۰۷/۲۹) نېټه علمي شورا کې د رایو په اکثریت سره تائید او د یادې شورا په (۰۹) ګڼه پروتوکول کې ثبت دی.

د شورا د مشر لاسلیک

د شورا د منشي لاسلیک